## مطبوعاتي اعلامیه

# رژیم د حزب التحریر غړي یو ځل بیا په داسې حال کې ګواښي، چې دوی د «اې مسلمانانو، خلافت بیا تاسیس کړئ!» تر عنوان لاندې کمپاین پیل کړی دی

د ۱۴۴۲هـ.ق کال، د رجب په ۵مه، چې د ۲۰۲۱م کال د فبرورۍ له ۱۷مې نېټې سره سمون خوري، حزب التحریر د خلافت د ړنګېدلو د سلمې کلیزې په پوره کېدلو سره د «**اې مسلمانانو، خلافت بیا تاسیس کړئ!**» تر سرلیک لاندې کمپاین پیل کړ. د کمپاین په لړ کې، په سیدي بوسعید ښارګوټي کې امنیتي ځواکونو د حزب التحریر د غړي، ظهیر العمري په کور چاپه ووهله. تر سختې پلټنې وروسته یې د هغه په کور کې ټول کتابونه له ځان سره یوړل. دغې پېښې د هغه پر کورنۍ باندې سخت وحشت او ډار خپور کړ. امنیتي ځواکونو د پېښې د ځای د پرېښودلو په وخت کې د نوموړی د احضار امر هم پرېښود.

دا ځووم ځل دی، چې د حزب التحریر له دغه غړي سره ورته کړنه تکرارېږي. څو ځلې د ده کور تر برید لاندې راغلي او دی امنیتي ادارو ته غوښتل شوی دی. داسې ښکاري چې په تونس کې امنیتي ځواکونه، د رسول الله صلی علیه وسلم د امت د مخلصو ځوانانو، له ازار پرته، چې د امت د بیا احیا او د کفارو د حاکمیت څخه د ژغورنې لپاره شپه او ورځ کار کړي بل کار نه لري. هو دا هغه ځوانان دي چې یوازینۍ هیله یې د دغه کفري او فاسد نظام څخه د مسلمانانو ژغورل او د نړیوال ډیموکراتیک تروریزم او د هغه د ملاتړو د ناوړه دسیسو افشا کول او له منځه وړل دي.

د خلافت له نه شتون څخه سل کال پوره شول، چې د مسلمانانو تاج، د دوی د عظمت سمبول او  ویاړ د ځینو عربو او ترکانو، د خیانت او له کافر غرب سره د همکارۍ په پایله کې نړول شوی دی. دغې پېښې له اسلامي امت څخه د دفاع ډال واخیست او مسلمانان یې د بې سر پرسته یتیمانو په څېر، د ژوند په لویه دښته کې وحشي ځناورو ته  یوازې پرېښودل. د امت د دغه ځورونکي حالت د کابو کولو لپاره حزب التحریر د مبارزې ډګر ته راودانګل، دا هغه حزب دی چې رهبران یې مسلمانانو ته دروغ نه وایي. د دغه حزب مخلصو ځوانانو د الله سبحانه وتعالی سره وعده کړې، چې دوی به په دغه لاره کې د هېڅ ډول ستړیا احساس ونه کړي او د دوی پرېکړه به تر هغه وخت بدلون ونه مومي، څو چې یې د نبوت پر منهج دویم راشده خلافت تاسیس کړی نه وي.

**اې امنیتي ځواکونو!** د خپلو خلکو په اړه له الله سبحانه وتعالی څخه ووېرېږئ  او د کفر استعماري وسیلې مه کېږئ. په دې باندې پوه شئ چې د خلافت د تاسیس وخت را رسېدلی دی او یوازې ستاسو نیک اعمال کولای

شي تاسو ته خير ورسوي. لکه څنګه چې رسول الله صلی علیه وسلم تاسو ته د قسطنطنيې د فتحې زېرى درکړى وو، په همدې ډول هغه مبارک د نبوت پر منهج د خلافت د تاسيس زيرى هم ورکړى دى، نو راولاړ شئ او د (**اې مسلمانانو، خلافت بيا تاسيس کړئ!**) تر سرليک لاندې د کمپاين برخه وګرځئ، رسول الله صلی علیه وسلم فرمايي.

**«بَشِّرْ هَذِهِ الْأُمَّةَ بِالسَّنَاءِ وَالرِّفْعَةِ وَالدِّينِ وَالنَّصْرِ وَالتَّمْكِينِ فِي الْأَرْضِ، فَمَنْ عَمِلَ مِنْهُمْ عَمَلَ الْآخِرَةِ لِلدُّنْيَا لَمْ يَكُنْ لَهُ فِي الْآخِرَةِ نَصِيبٌ»**

***ژباړه:*** *«دغه امت ته په ځمکه کې د عظمت، لوړې مرتبې، دين، بريا او ځواک زيرى ورکړئ، خو هغه څوک چې د دوى په منځ کې د اخرت کارونه د دنيوي ګټې په موخه ترسره کوي، هغه د اخرت لپاره هېڅ ګټه نه لري.» (له احمد څخه روايت شوى)*

**أقيموا_الخلافة#**

**#ReturnTheKhilafah**

**#YenidenHilafet**

**خلافت_بيا_تاسيس_کړئ#**

**د حزب التحرير- ولايه تونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲هـ.ق کال، د رجب ۱**

**۲۰۲۱م کال، د فبرورۍ ۱۸مه**

**د صدور ګڼه: ۳۰/ ۱۴۴۲**